ورځپانه
# مسیر
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د غبرگولي اوومه | د ۲۰۱۹ د مې ۲۸مه | درېیم کال| ۳۸۱یمه گڼه

2 017550 139621

## څېره

۴ مخ



### نریندا مودي

هند په نړۍ کې د ولسواکۍ ستر تمثیل دی. نږدې ۹۰۰ میلیونه خلک رایې پکې ورکوي او دوی پخپله خوښه یو کس واک ته رسوي. دا ځل بیا هم میلیونونو کسانو رایه ورکړه او د مودي په مشرۍ حاکم گوند یې واک ته ورساوه.

# د ناورین او بې ثباتۍ اوج؛

## ناامنیو او وحشت له کابل ښاریانو ارام او سکون اخیستی دی



۳

### کمپاینې گومارنې او شړېدلې حکومت

۲ مخ

### نوبهار لرغونی عبادت ځای

۲ مخ

### په افغان سوله کې سیمه ییزې موخې

۳ مخ

## په ننگرهار کې د اوبولگولو دوه کانالونه گټې اخیستنې ته وسپارل شول



د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزارت د ننگرهار ولایت په سره رود ولسوالۍ کې د ننگرهار د کانال د زېرمو د بیارغونې پروژې (NVDA) په اډانه کې د اوبولگولو د دوو فرعي کانالونو د رغولو چارې بشپړ او گټې اخیستنې ته وسپارل. دغه کانالونه چې له عمومي کانال څخه بېلېږي، د «لومړۍ او څلورمې ویالې» په نوم یادېږي.

یاد کانالونه چې په ټولیزه توگه درې کیلومتره اوږدوالی لري، په پاخه او اساسي ډول رغول شوي دي، چې د اوبو د تنظیم او وېش په برخه کې به د یادو سیمو د بزگرانو ستونزې په اساسي توگه حل کړي.


د دغو کانالونو د جوړولو ټولیز لگښت ۱.۷ میلیونه افغانۍ دی، چې د اسیا پراختیایي بانک له خوا ورکړل شوی دی. یاد کانالونه په ټولیزه توگه ۲۲۵ هکتاره ځمکه خړوبوي او همدارنگه له دغو کانالونو څخه د یادو سیمو نهه زره اوسیدونکي گټه اخلي.

## حبیب احمدزي: له خپلو خبرو نه په شا کېږم او په اړه یې اسناد او شواهد لرم

د ولسمشر غني پخواني سلاکار حبیب احمدزي ویلي، کومې څرگندونې یې چې کړې، له هغو به په شا نه شي او که په دې تړاو کومه تحقیقاتي اداره جوړه شوه، هغې ته به په دې اړه مدارک او اسناد هم وړاندې کړي.

د راپورونو له مخې، جنرال حبیب الله احمدزي چې د ولسمشر غني د ځانگړي امنیت پخوانی سلاکار و، څو ورځې مخکې له یوه خصوصي ټلوېزیون سره په مرکه کې ادعا وکړه، چې د ارگ دننه د سلاکارانو، وزیرانو او وکیلانو داسې کړۍ شته، چې د فحشا لپاره کار کوي. نوموړي د خپلې استعفا دلایل په کاري چارو کې لاسوهنه، په ارگ کې فحشا ته د ځانگړې کړۍ هڅونه او له ډیموکراسۍ څخه د هغوی ناسم برداشت بللی دی. دا په داسې حال کې ده چې وړمه ورځ د ولسمشر ویاند هارون چخانسوري د خبري ناستې پر مهال ویلي وو، چې د جنرال حبیب احمدزي څرگندونې پر شخصي انگېزو ولاړې دي او هغه یې د ځوکۍ او موقف اخیستو په خاطر کړې دي. چخانسوري ویلي وو، د حل لاره دا نه وه چې نوموړی دې د رسنیو له لارې پر خلکو تورونه ولگوي، بلکې په دې اړه که اسناد لري، لوېې څارنوالۍ ته یې دې وړاندې کړي. خو د ځانگړي امنیت په چارو کې د ولسمشر سلاکار حبیب الله احمدزي د ولسمشر د ویاند چخانسوري د خبرو په غبرگون کې پژواک خبري اژانس سره د خبرو پر مهال د دې پوښتنې په اړه چې ایا په ارگ کې د فحشا په اړه کوم اسناد لري؟ ویلي: «بعضې وضاحتونه داسې دي چې د ډېرو خلکو په عزت باندې تمامېږي. دغه یې جایگاه نه گڼم، فکر کوم کله چې بیا تحقیقاتي اداره جوړه شوه، هغوی ته به مدارک هم ورکړو، اسناد به هم ورکړو».

## په ارگ کې د اخلاقي فساد د ادعاوو په تړاو دې جدي څېړنې وشي



۵ مخ

## سوټ ایشن مانیټور: هند له طالبانو سره په خپله اوسنۍ پالیسي کې بدلون راولي



مشهورې هندي ورځپاڼې سوټ ایشن مانیټور لیکلي، هند غواړي چې له وسله والو طالبانو سره په خپله اوسنۍ پالیسي کې بدلونونه راولي.


د ورځپاڼې په خبره، تر دې مهاله هند په افغانستان کې د متحده ایالتونو او نورو پیاوړو قدرتونو له پالیسیو پیروي کوله، خو اوس اړتیا لیدل کېږي چې پر دې پالیسۍ له سره غور وشي او ژور بدلونونه پکې راشي.

سرچینه وړاندې کاږي، په داسې حال کې چې د افغان سولې په تړاو د امریکا او طالبانو خبرې حساس پړاو ته ننوتې دي، نو هند په دغه پروسه کې څنډې ته پاتې شوی او اړتیا لیدل کېږي چې یاد هېواد له طالبانو سره په خپله اوسنۍ پالیسي کې بدلونونه راولي او دا هغه موضوع ده چې په هند کې د ننه خلک یې هم پر وړاندې مخالف نه دي.

ورځپاڼه وړاندې کاږي، هند اوس دا درک کړې چې د سولې د خبرو له بریالیتوب سره طالبان سیاسي قدرت ته رسېږي او دوی غواړي چې له همدغه واقعیت سره سم له وسله والو طالبانو سره خپلې اړیکې ټینگې کړي.

د سرچینې په خبره، له هغه وخت راهیسې چې د امریکا او طالبانو تر منځ خبرې پیل شوې، هند په دغو خبرو کې کاملاً منزوي پاتې شوی، په داسې حال کې چې روسیې، چین، پاکستان، ایران او نورو مهمو هېوادونو له طالبانو سره خپلې اړیکې ټینگې کړې دي.

Shigal English Academy




Easy English learning
+93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.
SHIGAL ENGLISH ACADEMY
2019

## دريځ

## کمپايني ګومارنې او شړېدلی حکومت

لا هم ټاکنو ته څو مياشتې پاتې دي، خو محمد اشرف غني سر له اوسه داسې ګامونه اخلي، چې کمپايني حرکتونه ورته ويل کېدای شي. نوموړی سر له اوسه په حکومت کې داسې بدلونونه راولي، چې په راتلونکو ټاکنو کې يې بيا په خپله ګټه وکاروي. هغه تازه د دريو وزارتونو وزيران له دندو ګوښه کړي دي او پر ځای يې نوي کسان ګومارلي دي. د اوبو او برېښنا، مخابراتو او لوړو زده کړو لپاره نوي وزيران ګومارل شوي دي. د حکومت سياسي مخالفين هم دا کمپايني مقررۍ او منفکۍ ګڼي او پر محمد اشرف غني غږ کوي، چې د ټاکنو لپاره دولتي امکانات ونه کاروي.

که وروستيو بدلونو ته وګورو، واضح ترې کمپايني هڅې ښکاري. محمد اشرف غني په کورنيو رسنيو کې کم ملاتړ لري. له همدې امله يې د يوه خصوصي تلوېزيون مالک راوست او د مخابراتو سرپرست وزير يې کړ. ارګ غواړي په دې ډول له دغه تلوېزيون څخه په خپل راتلونکي ټاکنيز کمپاين کې ګټه واخلي. له همدې امله يې د تلوېزيون مالک ته وزارت ورکړ او هغه به يې په بدل کې په ټاکنو کې د ده ملاتړ کوي. له دې پرته د مخابراتو وزارت ته ټاکل شوی کس نه په دې برخه کې زده کړې لري او نه هم په اړونده برخه کې کومه کاري تجربه چې پرې حساب وشي. د لوړو زده کړو وزير هم د حنيف اتمر پخوانی ملګری و او ولسمشر په دې خاطر له دندې لرې کړ، چې په راتلونکو ټاکنو کې ترې ګټه نه شي اخيستلی. که څه هم د هغه پر ځای راغلی کس، استاد او تکړه مدير دی، خو ولسمشر بيا هم تمه لري چې په ټاکنو کې به ترې په جنوب لوېديځه حوزه کې ګټه واخلي. همداسې د اوبو او برېښنا وزارت ته راغلی کس هم داسې دی چې ارګ به په راتلونکو ټاکنو کې ترې ګټه اخلي.

دا په روښانه توګه کمپايني کړنې دي، چې په راتلونکو ټاکنو کې د حکومتي واک د کارولو لپاره د محمد اشرف غني تياری ښيي. تر دې حيرانوونکې دا ده چې دا کسان په خورا ډراماتيک ډول له دندې ګوښه کېږي او په دې اړه هېڅ فکر نه کېږي، چې د دولتي اداري چارې او برخليک به څه ډول وي. په دې اړه پرون اجرايه رييس ډاکټر عبدالله عبدالله هم ويلي، چې دا ډېره عجيبه ده چې ګوښه شوي وزيران د ځان د ګوښه کېدو خبر پر فيسبوک لولي او له دې لارې خبرېږي. د عبدالله په خبره، وزيران په ځان خبر نه وي، خو ولسمشر ګوښه کړي وي.

ارګ او واکمن ټيم ته پکار ده چې د راتلونکو ټاکنو لپاره تياری ولري، خو په هېڅ ډول دولتي واک او ځواک ونه کاروي. له بده مرغه اوس ارګ نږدې هره ورځ يو سلاکار ټاکي، خو ټول پوهېږي چې د دغو سلاکارانو ټاکل د کمپاين برخه ده. همداسې حکومتي بدلونونه او نور کارونه روان دي، چې په واضح ډول له ټاکنو سره تړلي دي. دا ډول ګامونه به له يوه اړخه حکومت لا زيات وشړوي او له بله اړخه به د رڼو، عادلانه او سراسري ټاکنو مخه ونيسي او د ولسواکۍ په مرۍ به پښه کېږدي.



# نوبهار لرغونی عبادت ځای

لیکنه: مصطفی سالک

نوبهار معبد د افغانستان په لرغوني تاريخ کې ځلانده ځای لري. د دغه معبد دروازې په دريو بېلابېلو زمانو کې دريو بېلابېلو دينونو پرانيستې وې.

۱: يو روايت دا دی چې د بلخ نوبهار معبد د زردشتيانو اورتون و.

۲: دويم روايت ښيي چې نوبهار د بودايانو ستر معبد و.

۳: درېيم روايت د اسلام تر راتللو وروسته تاريخ ښيي، چې دا د مسلمانانو ( ۹ ) ګنبديز جومات او عبادت ځای و.

الف: ډېر تاريخپوهان پر دې باوري دي، چې د نوبهار معبد اصلي نوم (ناوا ويهارا) دی، چې په سانسکرېټ ژبه کې د نوي معبد مانا لري. دقيقي طوسي په ګشتاسب نامه کې ويلي چې د ګشتاسب او لهراسب په زمانه کې دلته يو ستر اورتون او اتشکده اباده وه، چې له لرې لرې به ورته خلک د يزداني فيض د حصول لپاره ورتلل. د ځينو سندونو له مخې، ابوالحسن علي بن حسين مسعودي په خپل کتاب (مروج الذهب ومعادن الجوهر) کې د دغه معبد د ابادولو په اړه ليکلي: «نوبهار، منوچهر په بلخ کې جوړ کړ او کوم کس چې د دغه معبد پرده دار و، له پاچا سره يې لوړ مقام درلود چې د حاکم په څېر يې حکم منل کېده». تاريخ ليکونکي ليکي چې د ساسانيانو د واکمنۍ پر مهال هم نوبهار يوه ستره اتشکده وه.

ب: دويم نظر دا دی چې نوبهار د بودايانو يو ستر معبد و او که له بېلابېلو ليدلورو دغه نظر وڅېړو، دا نظر پياوړی برېښي. لومړی خو دا چې د دغه معبد نوم اوستايي نه دی، بلکې سانسکرېټي دی چې هندي اغېز لري.

(ناوا ويهارا) چې د نوي معبد مانا لري، بودايي نوم دی. هارا چې په فارسي ژبه کې د بهار بڼې ته اوښتی دی، هماغه د سانسکرېټ (هار) دی، چې جرړې يې د اريايانو لومړي ښار (وهاره) ته رسېږي. هار معبد ته ويل کېږي، خو بودايانو به چې کوم ښار جوړاوه، يو ستر معبد يې هم ورسره جوړاوه. له دې کبله په اوستايي ادبياتو کې هار سربېره پر معبد د ښار معنی هم مستعاره اخيستې ده.

په ګندهارا، ننګرهار، کندهار، چېرهار او نورو هارونو کې دواړه مانا وې ليدی شي .

د کوشاني واکمن کنشکا (۱۲۷ – ۱۴۷ – واکمن) په غوښتنه (۳۶۰) مېشت خونې جوړې شوې، چې عبادت کوونکي، زده کوونکي او نوميالي بودايي استادان په کې راټول شوي وو. چينايي سيلانيانو هيون تسنګ او فاهيان هم دا معبد په خپل اصلي نوم (ناو اويهارا) سره ثبت کړی دی او هيوان تسنګ په اريانا کې د ستر بودايي پوهنتون په توګه ياد کړی دی.

تاريخ ليکي چې په دغه معبد کې څو تنه ستر ارواوي بودايان هم خښ وو، بله دا چې د بودا يوه ستره مجسمه هم ولاړه وه او د بودا غاښ او جارو هم د تبرک لپاره اېښي وو.

(زکريا قزويني) ۶۸۲ هجري مړ، په خپل اثر (آثارالبلاد) کې ليکي، چې نوبهار له کعبې او مشرکانو سره د سيالۍ په پايله کې جوړ شوی و او بودايان به د حج لپاره د بلخ نوبهار معبد ته تلل. نوموړی ليکي: «نوبهارا معبد په بلخ کې و او د بوتانو ستره ټولګه وه، ځکه کله چې پاچاهانو د کعبې شرف، احترام او درناوی وليد او د هغې په اړه يې واورېدل، نو بهار يې د کعبې په تقليد کې جوړ کړ او په ورېښمينو ټوکرانو او ګران بيه جواهرو يې وپوښ او شاوخوا ته يې بتان ولګول. فارسيانو او ترکانو هم دا معبد سپېڅلی باله، حاجيان يې حج ته راتلل او ډالۍ يې ورته راوړې. نوبهار معبد (۱۰۰) زراع اوږد او لوړوالی يې تر (۱۰۰) زراعو زيات و. هر چا به چې د معبد ساتنه پر غاړه لرله، برمکيان به يې بلل. واکمنو برمکيانو ته هم دا نوم له همدې کبله ورکړل شوی و.

دقيقي (د ۳۶۷ هجري – ۳۶۹ – هجري تر منځ مړ) هم په خپله شاه نامه کې ليکلي، چې د اوسني ايران، هند، چين او ترکستان خلک به دلته د حج لپاره راتلل.

حاجيانو بتانو ته سجدې کولې او د برمک لاسونه يې ښکلول او دغسې يې د خپل روح تزکيه کول غوښتل.

د برمکيانو د واکمنۍ پر مهال ( ۱۷۰ – ۱۹۳ هجري) دغه معبد تر ډېره ړنګ شو ، بتان يې له منځه لاړل او په پاتې برخه کې يې جومات جوړ شو، چې د (۹) ګنبدونو جومات يې باله، خو دغه جومات هم د وخت په تېرېدو سره له منځه لاړ او اوس يې تش نوم پاتې دی. اوس د دغه معبد پر ځای د (۹) ګنبد جومات پاتې شوني ليدل کېږي. دغه جومات چې په اتمه ميلادي پېړۍ کې جوړ شوی و، اوس يې هم ليدو ته نړيوال لرغونپوهان ور روان دي، خو ځانونه د دغې شهکارې ودانۍ له رازه خبر کړي.



# اشرف غني هغه ولسمشر دی چې ارګ نه خوشې کوي

سرچینه: واشنګټن پوسټ
ژباړه: وحید فقیري

د امريکا مشهورې ورځپاڼې واشنګټن پوسټ د مې په ۲۶مه ليکلي، که څه هم د ۷۰ کلن اشرف غني کاري موده تېره اونۍ پای ته ورسېده، خو هغه اوس هم په ارګ کې ناست دی او د کابل د بوين او کثيف سيند د پاکولو نقشې د کاغذ پر مخ جوړوي.

په داسې حال چې ستره محکمې د غني موده تر سپټمبر پورې وغځوله، خو د غني سياسي حريفان وايي چې هغه په داسې وخت کې «انارشي او هرج و مرج» ته لمن وهي، چې د وسله والو مخالفينو بريدونه زيات شوي دي او په وطن کې سياسي اختلافاتو او قومي نفاق زور اخيستی دی.

واشنګټن پوسټ ليکلي، غني پر مزمنو او دوامداره امراضو اخته دی، خو د هغه پلويان وايي چې غني هڅه کوي چې حکومتوالي ښه کاندي، اداري فساد راکم کړي او سوله تامين کړي. د هرج و مرج مخه ونيسي او د قومي اخ و ډب ممانعت وکړي.

واشنګټن پوسټ دغه راز کاږي چې غني په ۲۰۱۴ ز کال کې د يوې کرغېړنې سياسي معاملې پر اساس په ارګ ننوت. د قدرت دا وېش د امريکا له خوا هله تاييد شو، چې ټاکنې رسوايۍ ته کش شوې او د ټاکنو پايلې له نامعلوم برخليک سره مخ وې.

د جمهوري رياست کانديدان وايي چې غني هڅه کوي، چې بيا د خپل واک مشکوک مشروعيت د څه نور وخت لپاره وغځوي. هغوی له غني څخه غواړي چې استعفا وکړي او قدرت يوه سرپرست حکومت ته خوشې کړي. بل پلو، هغوی د مدني اعتراضونو ګواښ هم کوي.

يادې ورځپاڼې ليکلي، که څه هم غني د افغانستان لپاره د يوه نوي وېژن دعوه کوله، خو په دغو تېرو څو کلونو کې يې خپل زيات محبوبيت له لاسه ورکړی دی؛ ځکه اقتصاد په ټپه ولاړ دی او جنګونه لا زيات شوي دي. بلخوا امريکايانو او طالبانو د سولې د خبرو له پروسې څخه حذف کړی او طالبان يې د «امريکا ګوډاګی» او مزدور ګڼي. دغه راز، د غني او واشنګټن روابط هم په زياتېدونکې توګه خراب شوي دي.

واشنګټن پوسټ ليکلي، عادي افغانان د غني د حکومت په اړه سره وېشلي دي. اکثره کابليان د غني له حکومته ناخوښه دي او زياتره وايي چې غني غواړي خپله دوره تر نامعلوم وخته پورې وغځوي. د کابل اوسېدونکی سيد امين عارف وايي: «د هغه رياست د قانون خلاف دی. غني هېڅ لاسته راوړنه نه لري او په خلکو کې يې نفاق ښيندلی دی. دا د ده قصور دی چې انتخابات پر وخت داير نه شول. هغه بايد ژر تر ژره قدرت خوشې کړي»، خو د کابل د پوهنتون ۲۴ کلن محصل، عبدالله احمدي وايي، موږ پرته له غني څخه بل اپشن نه لرو؛ ځکه مخالفان پر مذهبي او قومي ليکو باندې وېشل شوي دي.

په ورته وخت کې امريکايي او د ملګرو ملتونو مامورين ټينګار کوي، چې ټاکنې بايد په سپټمبر کې وشي؛ ځکه که چېرې ټاکنې بيا وځنډول شي، ژمی راځي او د جمهوري رياست مقام لا بې اعتباره کېږي، خو ځينې مبصرين د ټاکنو د شفافيت او اعتبار په اړه هم شکمن دي؛ ځکه د ټاکنو کمېسيون پر لانجو اوښتی دی او د پارلماني ټاکنو نتايج لا اوس هم ځينې کانديدان نه مني.

د جمهوري رياست لپاره کانديد رحمت الله نبيل وايي: «نن سبا، طالبان تر پخوا ډېر قوي دي او په ملک کې تر پخوا قومي درزونه لا زيات شوي دي. دغه راز د امريکا حمايت تر پخوا کم شوی دی او سيمه ييزه خواخوږي هم لږ شوې ده. که چېرې موږ اوسنی بحران مخکې له مخکې سټاپ نه کړو، د جمهوري رياست نتايج به خامخا چلېنج شي او دا ځل به هېڅوک بل جان کيري ته غوږ ونه نيسي» .

## عامې روغتيا وزارت: په ماشومانو کې د وينې سرطان ډېرېدو اندېښمن کړي يو

عامې روغتيا وزارت ويلي، په ماشومانو کې د وينې د سرطان زياتېدو اندېښمن کړي يو.

د وينې په سرطان اخته دوولس کلن ماشوم لطف‌الله چې د درملنې لپاره له بادغيسه د کابل د اندراګاندي د ماشوم د روغتيا روغتون ته راوړل شوی او له اوو مياشتو راهيسې په دغه روغتون کې بستر دی، ويلي چې تر پنځم ټولګي يې زده کړې کړې دي، خو د سختې ناروغۍ له امله نور ونه توانېد چې ښوونځي ته ولاړ شي.

هغه ويلي: «لومړی مې پښو او لاسونو درد کاوه، له بادغيسه هرات ته راغلو، د هډوکي د وينې له معاينې وروسته يې وويل، وينه دې ميکروبي شوې، بيا کابل ته راغلم، اووه مياشتې کېږي چې دلته بستر يم، ۵۰۰۰ افغانۍ مې ولګېدې، ۹ واکسينه مې واخيستل، يو يې پاتې دی، له هغې وروسته بيا معاينه کېږم چې څومره نتيجه يې ورکړې ده».

په دغه روغتون کې چې هرڅومره د وينې په سرطان اخته ماشومان بستر دي، اکثره يې له بېلابېلو ولايتونو راوړل شوي دي.


د وينې سرطان په ماشومانو کې د شايع کېدونکي سرطان نمونه ده او په هغو خطرناکو ناروغيو کې شامل دی، چې ريښه يې د وينې په سلولونو او د هډوکو په مغز کې ده.

له وريو او پوزې د دوامدارې وينې راتلل، د هډوکو دوامدار دردونه، دوامداره تبه، مکرر عفونت، په ورنونو او اوږو کې د پوستکي راوتل، دوامداره ستومانتيا او د انرژۍ کموالی، په ماشومانو کې د وينې د سرطان نښې دي.

د اندراګاندي د ماشوم د روغتيا روغتون د ماشومانو د داخله ناروغيو متخصص ډاکتر محمد عارف حسنزي ازادي راډيو ته ويلي، که په ماشومانو کې د وينې سرطان په وخت تشخيص او درملنه يې وشي، د درملنې وړ دی.

هغه ويلي: «که يو ماشوم هر ځل تبه کوي او په هېڅ ډول انتي بيوتيک نه ښه کېږي، دا يو اشتباهي حالت دی او بايد تشخيص شي، که تشخيص هر څومره ژر وشي، نتيجه به يې ښه وي، درملنه يې دوه برخې لري، يوه دا چې ناروغ ته درمل ورکول کېږي او بله يې ناروغ ته شعاع ورکول دي چې په خواشينۍ سره په دغه روغتون کې نشته».

په ورته وخت کې د عامې روغتيا وزارت د سرطاني ناروغيو د کنټرول د پروګرام مسوول ميهن عبدالله ويلي، هره ورځ د وينې په سرطان لس يا پنځلس اخته



ماشومان د اندراګاندي روغتون ته مراجعه کوي.

نوموړي دغه راز ويلي: «زموږ هڅه دا ده چې په دغه روغتون کې د سرطان د مرکز يا وارډ ډېر تجهيز او ملاتړ وکړو او همدارنګه د ثديه د سرطان د تشخيص مرکزونه چې د کابل په استقلال او د هرات په ولايت کې دي، هغه هم تجهيز او پياوړي کړو».



# په افغان سوله کې سیمه ییزې موخې

لیکنه: سید خالد سادات

د سولې روانې هڅې د ذیدخلو لورو لهخوا له بندښت سره مخ کېږي. طالبانو ته ورکړل شوی ماموریت ورځ تر بلې پېچلی کېږي. طالبان هڅه کوي چې په ورکړل شوي ماموریت کې له امریکا سره ډغرې ووهي او خپل ځان د یو قوي قدرت په توگه تعریف کړي. له بل لوري امریکا په افغانستان کې د خپل نظامي حضور په لټه کې ده، چې د طالبانو په وجود کې ځنگه کولای شي په افغانستان کې محدود شمېر عسکر وساتلی شي.

دغه باید ومنو چې طالبان اوس له یوې جگړه ییزې کتلې څخه د سیاسي کتلې پر لور حرکت کوي، خو د بین‌المللی حقوقو له اړخه وار له مخه د دولتي تعاملاتو تحقق پر طالبانو نه شي اطلاق کېدای. مانا دا چې اوس طالبانو ته فقط د جگړې ختمولو او له نظامي بعد څخه سیاسي بعد ته د دوی د کتلې انتقالول مهم دي. دولتي تعاملات د امریکا او له نورو هېوادونو سره د افغانستان گډ نظام تر چتر لاندې صورت نیولی شي، چې طالبان باید د نظام برخه وگرځي او تر سره یې کړي. له بل لوري طالبان په مذاکراتو کې د خپل امتیاز بیلانس د جگړې پر شدت حسابوي، طالبان فکر کوي چې که هر څومره جگړه قوي شي، دوی ډېر امتیاز تر لاسه کولای شي، په داسې حال کې چې د سولې او جکړې له منظره، د طالبانو د جگړو شدت خپله د سولې نقض او خنډ دی.

اوسمهال د سولې روانه سیمه مانوره او ماموریت یو حد ته رسېدلی، چې باید منسجم او منظم شي. د سیمې هېوادونه په ښکاره له امریکا سره د دښمنۍ او قدرت تظاهر ته غاړه نه ږدي. روسیه د مرکزي اسیا د امنیت ټینگښت او بالاخره د روسیې ملي امنیت ته د افغانستان خاورې گواښ او تهدیدونه محور کول غواړي. چین په اوږدمهال کې د اقتصادي پرمختگ په فکر کې دی او د افغانستان په جگړه کې خپلې گټې لکه د سیپک، لاجوردو لار، یو کمربند یوه لار، وربښمو لار او نورو هغو ډېرو اقتصادي پروژو ته سترگې په لار دی، چې باید په سیمه کې د چین تر مشرۍ لاندې پلي شي.

د افغانستان د سولې مسئله بې له شکه د چین لپاره د اقتصادي او حیاتي مسئلې مانا لري. د سیمې دوه مهم هېوادونه ایران او پاکستان مختلفې او متضادې غوښتنې لري، چې د افغان سولې په چوکاټ کې یې تر لاسه کول غواړي. دلته باید په زغرده د پاکستان او ایران له اهدافو سره له ملي زاویې بحث وشي. که د سولې په چوکاټ کې افغان دولت د پاکستان او ایران له تاثیره نه خلاصېږي، بیا هم د دایمي سولې تعریفول ستونزمن برېښي. که طالبان د پاکستان په اشاره او غوښتنه له امریکایانو او روسانو سره گډ تفاهم ته رسېږي، تر د افغانستان نظام د Pro Pakistan State یا د پاکستان حمایوي دولت بڼې ته واړوي، باید پوه شو چې په اوږدمهال کې به د پاکستان د گټو او منافعو لپاره استعمالېږو او دایمي سولې ته رسېدنه خورا ستونزمنه ښکاري. د افغانستان په مسئله کې پاکستان پر اټومي قدرت او د سیمې پر یو نظامي لوبغاړي بدل شوی دی.

پاکستان د شوروي اتحاد له یرغله نیولې تر اوسه د افغانستان مسئلې ته د خپلو اقتصادي گټو له نظره گوري. په افغان - شوروي جگړه کې پاکستان نه یوازې د غربي هېوادونو، بلکې د مسلمانو او کمونیستي هېوادونو حمایه هم ترلاسه کړه. له جگړې وروسته یې د مجاهدینو مکمل کنټرول په لاس کې واخیست او د کورنۍ جگړې تېل یې په افغانستان کې وپاشل. نصیرالله بابر مجاهدین د افغانستان له دولت سره چې د ډاکتر نجیب الله تر مشرۍ لاندې فعال و، له هر راز مذاکراتو او خبرو څخه منعه کول. د ملي پخلاینې پروسه د ډاکتر نجیب له خوا مجاهدینو ته وړاندې شوه، خو مجاهدینو هر راز مصالحه او بین‌الافغاني مفاهمه ردوله او ټینگار یې دا و چې مجاهدین کابل ته په فاتحانه ډول ننوځي. هماغه وو چې فاتحانه ننوتو سره سل کلنه اردو له منځه ولاړه، افغانستان لوټ شو، یوازې اویا زره کابلیان په کابل کې د اسلامي تنظیمونو په جگړو کې شهیدان شول او پاکستان افغانستان ته د خپلې پنځمې صوبې بڼه ورکړه.

سناریو بیا په تکرارېدو ده، طالبان د مجاهدینو په پخواني پله روان دي، د کابل حکومت له ټولو معایبو سره سره، طالبانو ته په ۲۰۱۸ ز کال کې د کابل پروسې دویم کنفرانس کې د سولې بشپړ پکېج وړاندې کړ. طالبانو ته د سیاسي حزب او سیاسي فعالیت امتیاز وړاندې شو، د طالب بندیانو خوشې کول او طالب مشران له تور لېست څخه ایستل افغان دولت په خپلو لومړیتوبونو کې راوستل. افغان دولت د مستقیمو مذاکراتو لپاره حتی یو دولتي مذاکرتي ټیم هم وټاکه، خو د طالبانو او افغان دولت ترمنځ مستقیم مذاکرات ترسره شي. خو له دغو ټولو چانسونو او فرصتونو سره طالبان لکه د مجاهدینو په څېر کابل ته په فاتحانه ډول ننوتل غواړي. له ورایه برېښي چې پاکستان طالبان د امریکا او نړۍ له لویو قدرتونو سره د بهرني سیاست د سیاسي دستگاه په توگه لوبوي. د هند ـ پاکستان خصومت او دښمني پاکستان غواړي د طالب له وجود نه په گټه اخیستنې پای ته ورسوي او له امریکا تضمین واخلي. په افغانستان کې ستراتیژیک عمق ته رسېدنه د پاکستان لوی ارمان دی او د اوسنیو مذاکراتو په چوکاټ کې یې د طالبانو له حضور څخه په گټې اخیستنې غواړي چې ورته ورسېږي.

پر ډیورنډ کرښه باندې د اغزن تار تېرول بله مانا نه لري، څو پاکستتان په افغانستان کې اور دومره گرم کړي، چې افغان ملت د خپل وجود برخې پرېکولو ته مجبور کړي. پاکستان د افغانستان روانې جگړه ته د سرمایې په سترگه گوري، د اوبو پر سر مسئله د پاکستان لپاره حیاتي ارزښت لري، څو د ځان په گټه یې وڅرخوي او روانه جگړه ده چې پاکستان دغه هدف ته نږدې کوي.

په پایله کې ویلای شو هومره چې د طالبانو او افغان دولت ترمنځ مستقیم مذاکرات شا ته لوېږي، په هماغه اندازه د سولې دروازه د افغانانو پر وړاندې تړل کېږي. د سیمې هېوادونو متفاوت تعریفونه چې افغان سولې ته یې لري، ستر خنډ بلل کېږي، څو چې گاونډیان او سیمه ییز هېوادونه د سولې لپاره واحد شکل پیدا نه کړي، بشپړ بین‌الافغاني مذکراتو پیل کېدای نه شي او د گاونډیو هېوادونو اهداف روښانه نه شي، بعیده برېښي چې روانه جگړه پای ومومي.

# د ناورین او بې ثباتۍ اوج؛

## ناامنیو او وحشت له کابل ښاریانو ارام او سکون اخیستی دی



کابل ښار د نوي کال له پیل سره سم، د خونړیو جنایي پېښو له یوې څپې سره مخ دی. هره ورځ د کابل په نږدې هره امنیتي حوزه کې جنایي پېښې رامنځ ته کېږي او کابل ښاریان یې له سختو اندېښنو سره لاس او گرېوان کړي دي. کابل ښار د جنایي جرمونو د ډلو او باندونو لپاره په انساني ژوند د لوبو پر ډگر بدل شوی دی. سوداگر، عام خلک، دولتي کارکوونکي، خبریالان، دیني علما ان ماشومان په بې رحمانه توگه وژل کېږي؛ خو حکومتي چارواکي کوم اغېزناک گام نه اوچتوي.

ورمه شپه د کابل ښار په زړه کې وسله وال یوه کور ته د ننه کېږي، چې د ښځو او ماشومانو په گډون، د یوې کورنۍ اووه غړي وژني. ځایي امنیتي مسوولین سبا له دې موضوع خبرېږي او په اړه یې پلټنې کوي. له دې یوه ورځ وړاندې په کابل ښار کې وسله وال دیني عالم شبیر احمد کامه وال وژني. تر دې یوه ورځ وړاندې د کابل ښار په تر ټولو امنه سیمه کې یو ملي سوداگر په رڼا ورځ په ډزو وژل کېږي. د تېرې جمعې په ورځ نوموتی دیني عالم مولوي ریحان د جومات په منځ کې د چاودېدونکو توکو په مرسته وژل کېږي.

دا هغه پېښې دي چې تر رسنیو رسېږي. د دې تر څنگ لسگونه داسې پېښې کېږي، چې پر هغه باندې رسنۍ نه خبرېږي او یا پټېږي. کابل ښار په دې وروستیو کې د وېرې او وحشت په ښار اوښتی دی، خو امنیتي مسوولین د ناامنۍ د کابو کولو لپاره هېڅ راز اقدام نه کوي.

نه یوازې جنایي پېښې په کابل کې ډېرې شوې دي، بلکې ترهگریزو پېښو هم له خلکو ارام اخیستی دی. پرون سهار د حج او اوقافو وزارت پر یوه موټر چاودنه وشوه او ډېرو خلکو ته یې مرگ ژوبله واړوله.

د امنیتي مسایلو شنونکی لطف الله مشعل بیا په امنیتي ادارو کې فساد د ټولو ناامنیو او جنایي پېښو د ډېرېدو لامل بولي. د نوموړي په خبره، د امنیت د تامین لپاره باید د امنیتي ادارو په راس کې پیاوړي او مسلکي کسان وگومارل شي او تر څنگ یې باید په دغو ادارو کې د فساد د مخنیوي لپاره تر شعار ور هاخوا عملي گامونه اوچت کړل شي.

مشعل همدا راز د ناامنیو د کنټرول په برخه کې حکومت په ناکامۍ تورنوي او وایي چې د ملي یووالي حکومت مشران بریالي نه شول، چې د امنیت د تامین په برخه کې خپلې ژمنې عملي کړي. نوموړی زیاتوي: ((په لومړي سر کې د امنیت د تامین شعارونه ورکول کېدل، خو اوس هر څه سرچپه شوي دي. جگړې او ناامنۍ د کابل ښار زړه ته را رسېدلې دي)).

بلخوا په ارگ کې پرون د کابل ښار د امنیتي وضعیت د ارزولو لپاره غونډه جوړه شوې وه. ولسمشر غني د دې غونډې مشري کوله او د کابل د امنیت په اړه یې د امنیتي مسوولینو راپورونه او پلانونه واورېدل. هغه سپارښتنه کړې چې امنیتي مسوولین دې د کابل امنیت خپل لومړیتوب وگرځوي او د جنایي شبکو او جرمي ډلو ټپلو په نیولو کې دې هر اړخیزه هڅه کوي. غني ټینگار کړی چې د اختطاف کوونکو او جرمي شبکو نیول او تعقیب باید د امنیتي مسوولینو لومړیتوب وي.

یوازې امنیت نه دی چې ولس ځوروي. د بیو لوړېدل، د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ ټېټدل، د ولسي جرگې د ریاست پر سر کشمکش او هلته د پراخ فساد تورونه، د سرپرستانو له لوري د وزارتونو اداره کول او سلیقوي ادلون بدلون، د سولې د خبرو نامعلوم وضعیت، د داعش ډلې د حضور پراخېدل او د راتلونکو ټاکنو نامعلوم برخلیک هغه څه دي چې افغانانو ته یې ډېرې اندېښنې پیدا کړې دي.

# سعودي عربستان د مکې په بیړنیو سرمشریزو کې قطر ته هم د گډون بلنه ورکړې ده



قطر ویلي، سعودي عربستان بلنه ورکړې چې په مکه کې د عرب لیگ هېوادونو په دوو بیړنیو سرمشریزو کې برخه واخلي، خو مالومه نه ده چې د دغه هېواد امیر تمیم به د سعودي پاچا دا بلنه ومني او که نه.

دا په داسې حال کې ده چې په خلیج کې وروستیو کړکېچونو سعودي دې ته اړ کړ، چې عرب لیگ دوې بیړنۍ غونډې راوغواړي او دغې سرمشریزې ته د قطر وربلل د یاد هېواد د چارواکو لپاره مهمه دېره گڼل کېږي؛ ځکه سعودي عربستان، بحرین، مصر او اماراتو له ۲۰۱۷ ز کال راهیسې له قطر سره خپلې ډیپلوماټیکې او اقتصادي اړیکې پرې کړې دي.

دغه څلور هېوادونه پر قطر تور پورې کوي، چې د ترهگرۍ ملاتړ کوي او د دوی سیمه ییز سیال ایران ته ډېر نږدې دی، خو قطر بیا په وار وار دغه تورونه رد کړي دي.

که څه هم دغه کوچنی خلیجي سلطنت په تېر ډسمبر کې د خلیج د همکاریو شورا سرمشریزه کې د گډون لپاره سعودي ته بلل شوی و، خو د سعودي اوسنۍ بلنه د قطر لپاره په دې مانا هم کېدای شي، چې د گوښې کولو هڅې یې نه دي بریالۍ شوې.

ټاکل شوې چې روانه میاشت په سعودي کې د عربي هېوادونو مشران سره راغونډ شي، څو په خلیج کې د زیاتېدونکې ترینگلتیا په تړاو خبرې وکړي.

سعودي عربستان دا بیړنۍ سرمشریزه وروسته له هغه رابللې، چې په خلیج کې د تېلو پر څو ټانکرونو په مرموز ډول بریدونه وشول او د سعودي عربستان د تېلو یوه نللیکه د حوثي یاغیانو د بې پیلوټه الوتکو له لوري په نښه شوه.

په سیمه کې یوه بله د پام وړ پرمختیا د امریکا د یوې سترې الوتکو لېږدونکې بېړۍ او ۵۲ ډوله بم غورځوونکو الوتکو ځای پرځای کېدل دي، چې د امریکا دفاع وزارت جوخت سیمې ته د یو نیم زرو نورو امریکایي ځواکونو، د پټریوټ توغندیو نورې بېټرۍ او د ځار الوتکو د استولو اعلان هم کړی دی.

متحده عربي اماراتو ویلي، اړتیا ده چې د روان خطرناک حالت لپاره عربي او خلیج هېوادونه یو موټی شي او کېدای شي دغې سرمشریزې ته د قطر وربلل دغه راز یوه گډ دریځ ته د رسېدو هڅه وي.

## د کتــاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### یوولسم څپرکی
### «ماته» څنګه «بری» کړو؟




د پوهنتون استادان پوهېږي چې د ناکامۍ نومرو ته غبرګون په محصل کې د بري بالقوه وړتیا پیدا کوي. څو کاله مخکې مې چې پوهنتون کې سبق ښوده، یو ځل مجبور شوم چې په خپل زړه د وروستي کال یوه محصل ناکام کړم. دا خبره هغه محصل ته لویه ضربه وه، ځکه هغه فراغت ته پلانونه جوړ کړي وو او دې ناکامۍ یې ورپورې خلک خندولای شول. محصل دوه لارې لرلې: یا به یې دا مضمون بېرته له سره لوست او سند به یې په ځنډ اخیستی یا به له پوهنتونه همداسې بې سنده تلو.
زه په تمه وم چې دا محصل به د دې ناکامۍ له امله ماسره دښمني کوي او همداسې وشول. ما ورته وویل چې کار دې ډېر ضعیفه و، هغه راسره ومنله چې ډېره خواري یې نه وه کړې.
ویې ویل: (د تېر سمستر درسونه مې ډېر بد نه وو، د هغو لحاظ هم نه کوئ؟)
ما ورته وویل: (داسې نه شم کولای، ځکه زه د محصل د هرې دورې کار په هماغه دوره کې سنجوم او بله دا چې د پوهنتون قوانین سخت دي، یوازې له تېروتنې پرته نور استادان د نومرو بدلولو حق نه لري.)
سړی پوه شو چې نومرې نه بدلېږي، سخت غوسه شو، راته وویل: (استاده په دې ښار کې ډېر داسې خلک دي چې نه یې دا درس لوستی او نه پکې بریالي شوي، خو اوس ژوند کې ښه بریالي دي، نو دا درس ولې دومره مهم دی؟ په دې یو مضمون کې لږې نومرې ولې رانه سند ایساروي؟ دا شکر دی چې نور استادان هم تا غوندې یوازې ظاهر ته نه ګوري.)
له دې خبرې وروسته پنځه څلوېښت ثانیې غلی وم، ځکه د هر ډول جنګ او شخړې د مخنیوي ښه لاره چوپتیا ده.
بیا مې هغه محصل ته وویل: (ستا ځینې خبرې سمې دي. ډېر خلک له دې درسه خبر هم نه دي او بریالي دي، ته هم بې له دې درسه نه په ګټه اخیستو سره په خپل کار کې بریالی کېدای شې. ستا د ژوند ارمان نه په دې درس خرابېږي او نه جوړېږي، خو د دې درس او مضمون په اړه ستا لیدلوری دا کار کولا شي.)
هغه وویل: (یعنې څنګه؟)
ورته ومې ویل: (یعنې موږ چې دلته څومره نومرې درکوو، بهر هم همدومره نومرې درکوي. هلته او دلته یو شی مهم دی او هغه کار ختمول دي. په نیمګړي کار له دې ځایه بهر هم څوک نومرې او امتیاز نه درکوي.)
یوه شېبه غلی شوم چې په خبره یې سر خلاص شي، بیا مې خبره وغځوله:
(ګوره زه به یوه لاره دروښیم، ته ډېر نهیلی شوی یې، زه دې درک کوم او که ته رانه خپه هم شې، ماته به بیا هم هماغه پخوانی محصل یې، خو دې تجربې ته په مثبت نظر وګوره. مهم درس دا دی چې: که حاصل و نه لرې، موخې ته نه رسېږې. دا سپارښتنه ومنه او تر پنځو کالو یې له دې ځایه زده کړې ګټور درس وګڼه.
درې ورځې وروسته خبر شوم چې بېرته یې په دې مضمون کې نوم لیکلی دی، ډېر زیات خوښ شوم، دا ځل یې لوړې نومرې واخیستې، وروسته بیا د هغو خبرو د منني لپاره یوه ورځ زما لیدو ته راغی.
راته وویل: (ستاسې له درسه وتلو مهمه درس راکړ، ښایي تاسې را پورې وخاندئ، خو زه په دې خوښ یم چې په لومړي ځل نه یم فارغ شوی.)
موږ ماتې په بري بدلولای شو، یعنې درس ترې اخیستی شو، ترې تېر شو، وروسته چې بیا ځان پسې هغه تېروتنې ته وګورو، ورته وخاندو.
مویګور سینما به هېڅکله لیونل بري مور هېر نه کړي. په (۱۹۳٦.ز) کال کې د بري مور زنګون سخت ټپي شو او له ډېرو درمنلو سره سره بیا هم ښه نه شو. زیاتره خلکو ویل چې دی نور نه ښه کېږي، خو تېروتي وو. هغه له دې خنډه په تمثیل کې د لویو بریاوو لپاره کار واخیست. په دې پېښې اتلس کاله واوښتل، دی غلی نه شو او لیونل د معلولینو په بایسکل بیا هم څو بریالي تمثیلونه وکړل.
د (۱۹۴۵.ز) کال د مارچ په پنځلسمه نېټه، چې ډبلیو، کلوین او ویلیمز د فرانسې جګړه کې په ټانک کې ناست وو، ټانک په ماین ور برابر شو او د چاودنې له امله ویلیمز ړوند شو. خو ویلیمز غوښتل چې کشیش شي او دې ړوندون یې د کشیش کېدو مخه و نه نیوله. دی چې له پوهنتونه د غوره محصل په توګه فارغ شو، نو ویې ویل: (زما ړوندون زما امتیاز دی او هېڅ شی به د خلکو په اړه زما پر قضاوت اغېز و نه کړي. زه ټول عمر خلکو ته دویم چانس ورکولای شم او زما ړوندون به له خلکو سره زما اړیکې پرې نه کړي. زه به داسې کس یم چې هر څوک به راسره په اسانۍ لیدلای او خپلې ستونزې شریکولای شي.)
دا خپله د دې ثبوت نه دی، چې یوه ترخه او دردونکې ماتې په بري بدله شوې ده؟ ماتې یوازې یو ذهني برداشت دی او بس!
زما یو ملګری د ونډو د بازار تکړه او باوري پانګوال دی. دی د خپلو تجربو په رڼا کې د پانګونې ټولې پرېکړې ښې دقیقې ارزوي. یوه ورځ یې راته وویل: (پنځلس کاله مخکې مې چې کار پیل کړ، دوه درې ځله مې سم تاوان پکې وکړ، ځکه ما هم د نویو خلکو په شان زر ګټه غوښته او له امله به یې کنګال شوم. خو زه بیا هم و نه لوېدم. په اقتصاد کې مې د قدرت اساسي ټکي پېژندل او په دې هم پوهېدم چې ونډې د پانګونې لپاره تر ټولو مناسب څیز دی.)
**دوام لري...**

# نریندا مودي

شفیق امیرزی



بیا هم له کلونو وروسته دویم ځل دی، چې د هند په پارلماني ټاکنو کې یو ګوند په غوڅ اکثریت ټاکنې ګټي او په یوازې ځان حکومت جوړوي. دا ځل د مودي ګوند په هند کې واکمن و، خلک باوري وو، چې هغه به ډېرې رایې خپلې نه کړي، خو د مودي ګوند بیا هم د ټاکنو ګټونکی شو. د ټاکنو د پایلو له اعلان وروسته نریندا مودي د خپلو خبرو پر مهال وویل: «د خپلو هېوادوالو ټولې هیلې به ورپوره کړم او یوویشتمه پېړۍ به د هند پېړۍ وي. ټول هند ته خدمت کوو، هند به د سیالانو سیال کړم، له خپلو شته امکاناتو به په استفادې، هندیانو ته د سوکاله او ښکلي ژوند زمینه برابره کړم، د هند دښمنان به د هند دوستۍ ته اړ کړم او دوستان به یې نور هم له هند سره نېږدې او نېږدې کړم».
د چایو پلورونکي زوی، چې اوس د خپل عمر ٦۹ کلنۍ ته رسېدلی دی او له جنجاله ډک (ماضي) لري، خپلو پلویانو ته په لومړنۍ وینا کې وویل: «د ټولو هندوانو لپاره به کار کوم» .
٦۹ کلن نریندا مودي د ۱۹۵۰ زېږدیز کال د سپټمبر په ۱۷مه په ګجرات کې زېږېدلی دی. نوموړي همدلته ښوونځی لوستی او له هغه وروسته یې د ګجرات له پوهنتون څخه په سیاسي علومو کې ماسټري اخیستې ده. هغه د ښوونځي په وخت کې هڅاند او تکړه ځوانکی و. د خپلو ملګرو په منځ کې په رسا او فصیحه ژبه مشهور و، د ښوونځي په وخت کې یې ډېره هڅه کوله چې ځان یوه ځای ته ورسوي. هغه به په ډېرو مناظرو کې برخه اخیسته، د ښوونځیو تر منځ به چې ډېبېټونه پیل شول، مودي به په خبرو کې لومړی مقام ګاټه. د ښوونځي پر وخت یې له دغو ډېبېټونو ډېر مډالونه اخیستي دي.
کله چې مودي له ښوونځي فارغ شو، نو هڅه یې وکړه چې د هند ډېری سیمو ته سفرونه وکړي. پوره دوه کاله د هند په ګوټ ګوټ کې وګرځېد. له دې وروسته مودي د احمداباد د موټرو په تمځای کې د چایو په پلورلو ژوند تېراوه او دا کسب ورته له پلاره په میراث پاتې شوی و. مودي به له سهاره تر ماښامه له خپل مشر ورور سره په همدې تمځای کې چای پلوره او د ژوند روزګاري بسیا به یې کوله.
مودي ته نږدې کسان وایي چې همدا سختې شپې ورځې د دې لامل شوې، چې نریندا مودي په هندي سیاست کې د یو ستر کس په څېر را څرګند شي. هغه د ژوند ډېرې سختۍ ولیدې، مبارزه یې وکړه، سیاسي علوم یې ولوستل، ماسټر شو؛ خو دا چې هلته ورسره داسې څوک نه وو چې مالي ملاتړ یې وکړي، نو د چای پلورلو له لارې یې ژوند کاوه. د مودي مخالف کسان وایي چې نوموړی د هندي وګړو له ټیټ پاړکي سره تړاو لري. مودي دا خبره مني او زیاتوي چې له ټیټ پاړکي سره تړاو لرل کوم جرم نه دی. د هغه په خبره، که تاسې له شتمن مور او پلاره پیدا شوي یاستی، نو باید چې په لوړو ځایونو او پوستونو کې کار وکړی، خو که تاسې له یوه بې وسه مور او پلاره پیدا شوي یاستی، بیا مو په یوه داسې ټولنه کې ځان یوه مقام ته رسولی چې هلته پیسه اول خبره کوي، نو پوه شی چې تاسې د نه باور وړ وړتیاوې لرئ. د هند د ۲۰۱۴ کال په ټاکنو کې یوه بله مهمه موضوع را توده شوه؛ له ډېرې مودي راهیسې په هندوستان کې د مودي د کورني ژوند په اړه خلک نا خبره وو، د دغه کال د ټولټاکنو په درشل کې مودي د خپلې مېرمنې په اړه خبرې وکړې او دا یې ومنله چې نوموړی ښځه لري. داسې ویل کېږي چې کورناستې ښوونکې جوشدبن، مودي ته په کوچنیتوب کې په زور واده شوې وه، چې له همدې امله یې کورنی ژوند تریخ و. د خپل واده په سبا له خپل کور څخه وتلی و او نږدې دېرش کاله یې له کوره بهر ژوند کړی دی. د مودي د بریا یو راز دا دی چې ستونزو نه دی مات کړی.
مودي د نویمو کلونو په وروستیو کې د ښي اړخې هندو پلوه ګوند (BJP) ویاند و. نوموړی همدا مهال امریکا ته د عامه اړیکو په برخه کې د چټکو زده کړو لپاره تللی و. نوموړی پر دې سربېره، د انځورونو په سمون او مدیریت کې هم پوره وړتیا لري. همدې زده کړو له نوموړي سره په خپل سیاسي ژوند کې د تبلیغاتو په برخه کې ډېره مرسته کړې ده. د مودي په شخصیت کې د مشرۍ ځواک او ځانګړتیاوې د نوموړي له کوچنیتوب څخه څرګندې وې؛ هغه د خپلو لوړو زده کړو پر مهال د ټول هندوستان د زده کوونکو د ټولنې (ASC) مشر و. مودي د سیاست نړۍ ته په ۱۹۷۸ ز کال کې ننوت او په همدې مهال یې د (BJP) ګوند کې غړیتوب تر لاسه کړ او د یو کال په اوږدو کې یې ځان د همدې ګوند، د ګجرات په څانګه کې د عمومي ریاست تر څوکۍ ورساوه. په ۱۹۹۵ ز کال کې نوموړی د هند په پنځو سترو ښارونو کې د همدې ګوند د مشر په توګه وټاکل شو.
د وژنو تورونه:
په ۲۰۰۲ ز کال کې د بنسټپال هندي ګوند له لوري د ځمکې په سر نانډرۍ راپورته شوې، د همدغه ګوند ځینو کسانو پتېیلې وه، چې د مسلمانانو تر ولکې لاندې سیمه کې د هندوانو لپاره معبد ورغوي. په دې موخه د BJP ګوند سیمې ته د اخطار ورکولو په موخه ستر لاریون برابر کړ، د دغه لاریون موخه دا وه چې د هند مرکزي حکومت وګواښي څو یاده سیمه د مسلمانانو له ولکې وباسي. هندوان داسې انګېري چې په اوولسمه پېړۍ کې د مغلو پاچا بابر د هندوانو د زیارت پر ځای مسجد رغولی و. د دې سیمې د برخلیک په اړه اوس هم د هند په ستره محکمه کې له کړکېچه ډکه دوسیه همداسې پرته ده . د بشر د حقوقو سازمان په نوموړي تور لګولی، چې نوموړی په ګجرات کې د ۲۰۰۲ ز کال په فبرورۍ کې د مسلمانانو په وژلو کې لاس لري. داسې ویل کېږي چې مودي په همدې سیمه کې د خلکو د میلیونونو ډالرو په ارزښت شتمنۍ او کورونه له منځه وړي دي. پر دې سربېره یې د همدې سیمې لږکي بې کوره کړي دي. مګر مودي دا هرڅه له پامه وغورځول او په همدې کال کې یې په ګجرات کې یو لړ لاریونونه تنظیم کړل. د همدې تورونو له امله متحده ایالاتو مودي ته په ۲۰۰۵ ز کال د ویزې له ورکولو ډډه وکړه. انګلستان هم وویل چې مودي ښه شخصیت نه لري او هېواد ته یې پر ورتګ بندیز ولګاوه.
مودي له افغانستان سره ښې اړیکې لري. هغه کوښښ کوي چې هېواد یې د سیمه ییز رقابت لپاره او همدا راز د هند د سوداګرۍ د ودې لپاره تر څنګ یو پیاوړی افغانستان ولري.
د پاکستان اندېښنې:
په پاکستان کې سیاسي کړیو داسې انګېرله، که مودي واک ته ورسېږي، نو ښایي چې له پاکستان سره د کشمیر مسئله بیا له سره راپورته کړي. د مودي ګوند د کشمیر په اړه خورا سخت دریځ لري؛ کله چې پاکستان د لومړي ځل لپاره د اټومي وسلې ازموینه وکړه، نو په اړه یې د مودي د ګوند غبرګون خورا توند و او ګواښ یې کړی و چې کشمیر به د هند د یو خپلواک ایالت په څېر جوړ کړي. په ۲۰۰٦ ز کال کې مودي په پخواني لومړي وزیر من موهن سنګ باندې له دې امله نیوکې وکړې، چې د تروریزم له ملاتړو او بنسټپالو سره غوڅ چلند نه کوي. نوموړي له من موهن سنګ څخه غوښتي وو، چې د ترورېزم په اړوند په اساسي قانون کې د پام وړ تعدیلات راولي او همدا راز د ممبیې د پېښو په اړه رښتیني ګامونه پورته کړي. مودي د ټاکنیز کمپاین پر وخت هم په یوه مرکه کې ویلي وو، چې له پاکستان سره د اړیکو د رغولو په موخه باید پاکستان تر هر څه د مخه د هند پر ضد په پاکستان کې د ترورېزم ځالې او ګروپونه له منځه یوسي. د مودي دا ډول خبرو داسې انګېزې راپارولې چې د هند او پاکستان تر منځ د سولې امکان له ګواښ سره مخ کېدونکی دی. ځینې شنونکي وایي چې په هند او پاکستان کې مذهبي توندلارېتوب مخ په زیاتیدو دی، یوه بله ډله لیبرال سیاستوال وایي چې د مودي واک ته رسیدل به د دې لامل شي، چې په ټوله سویلي اسیا کې د ښي اړخه ګوندونو سیاست پراخ شي.
په لومړي سر کې د مودي او امریکا تر منځ اړیکې ښې نه وې، خو وروسته مودي پر دې بریالی شو چې د خپل هېواد د پرمختګ لپاره له امریکا سره اړیکې ښې کړي. دمګړۍ هغه له امریکا سره ښې اړیکې لري او آن تر ډېره پر دې بریالی شوی چې د پاکستان په اړه د امریکا نظر هم بدل کړي. هغه امریکا ته په خپل سفر کې وویل، چې پاکستان په سیمه کې د ترهګرۍ ملاتړی دی او ښه به وي چې د ترهګرو د ملاتړو هېوادونو په ډله کې وشمېرل شي.
مودي د دویم ځل لپاره تېره اونۍ د هند په پارلمان کې اکثریت څوکۍ وګټلې. د هغه د تېرې واکمنۍ پر مهال هند له پاکستان سره سخت په کشمکشونو کې ګیر و. په خپلو نوو انتخاباتي شعارونو کې یې د پاکستان د ګوښه کولو او لا ځپلو شعارونه هم ورکول. نوموړي ته د پاکستان لومړي وزیر هم د بریا مبارکي ویلې ده. پخواني ولسمشر حامد کرزي او اوسني ولسمشر اشرف غني هم مودي ته مبارکي ورکړې ده او د بریا هیله یې ورته کړې ده.

همیانی

# کورنی تاوتریخوالی څه دی او څنگه یې له منځه وړلی شو؟


ژباړه: امان الله«حنیفي»

ممکن له کورني تاوتریخوالي سره هرڅوک مخ شي، خو ډېر بیا داسې کسان شته چې هېڅ دا نه مني، چې نوموړي/ نوموړې دې پر دغه ناروغۍ اخته وي. دغه ناوړه او بد عادت په کوم خاص قشر او ډلې پورې نه دی تړلی. په هر سن وسال، هر چاپېریال او هر جنسیت کېدای شي ډېری وخت د ناوړه اقتصادي وضعیت له مخې ورسره مخ شي.

د دې ناروغۍ د مخنیوي لپاره لومړی گام دا دی، چې پر دغه ناروغۍ موږ خپل اخته کېدل ومنو. که تاسې خپله په دغه بد وضعیت کې را گیر یاستی یا داسې بل کوم کس پېژنی چې هغه ورسره لاس و گریوان دی، لطفاً یې د خلاصون لپاره له هغه سره مرسته وکړئ. هېڅوک باید د هغه چا د وېرې تر سیورې لاندې ژوند ونه کړي، له چا سره چې مینه لري.

کله چې له ازار او اذیت څخه خبرې کوو، د ډېریو ذهن کورني تاوتریخوالي ته ځي، خو ازار او اذیت هر ډول اقدام کېدای شي، چې ځینې یې پر نورو د تسلط او واک چلولو لپاره کوي. حتی ډېری خو ورته عمل د خپل ژوند له گډ ملگري سره هم کوي. کورنی تاوتریخوالی یوازې او یوازې پر نورو د واک چلولو او رعب ساتلو له امله منځ ته راځي. نور ته ازار ورکوونکی کس هېڅ ځوانمرده کار نه کوي. هغوی د مقابل لوري د ټیټ راوستو، د هغوی د شرمولو او د هغوی له سپک گڼلو پرته بل احساس نه کوي.

کورنی تاوتریخوالی، سن وسال او جنسیت نه پېژني. کېدای شي دغه سوء استفاده د هر کس لپاره، په هر سن کې، د هرې اقتصادي او قومي موضوع له امله رامنځ ته شي.



د کورني تاوتریخوالي ډېری قرباني ښځې وي، خو له اغېز یې نارینه هم نه دي خلاص، لکه ځینې یې له دې ناروغۍ په عاطفي لحاظ ځورېږي. خلاصه دا چې په هېڅ صورت مقابل لوري ته توهین کوونکی عمل هېچا ته د منلو وړ نه وي، دا که د نارینه وو له خوا وي او یا هم د ښځینه وو، ځوانانو او یا هم مشرانو او عمر خوړلو کسانو له خوا. هر څوک د احترام او ارزښت وړ دي، چې باید دغه ټکي ته په ټولنیز ژوند کې تر بل هرڅه ډېر پام وشي.

ډېری وخت په کور کې تاوتریخوالی له سپکو او پوچو خبرو څخه پیل کېږي. د دغه ناروغۍ فزیکي ډول ډېر خطرناک او د بدو عواقبو درلودونکی دی، خو عاطفي هغه یې هم له دې کم نه دی، چې د ځینو ارواپوهانو په نظر دا یې تر فزیکي ډېر خطرناک او بدې پایلې لرونکی دی.

پر سوء استفاده ولاړې عاطفي اړیکې کېدای شي پر نفس باور له منځه یوسي او یا هم د اظطراب او افسردگۍ او داسې بد کار لامل شي، چې مقابل لوری د یوازیتوب او ځان کمترۍ کندې ته ور ټېل وهي. هېڅوک باید دغه ناوړه او بد عمل ته هم د ځان له خوا د نورو په حق او هم د ځان په حق کې دنورو له خوا د ترسره کېدو اجازه ور نه کړي. د دغه ناوړه ناروغۍ لومړی او تر ټولو قوي درمل دا دي، چې شتون یې په ځان کې ومنئ.

دغه ناورغي ډېرې نښې او نښانې لري، چې له گډ ژونده وېره یې تر ټولو لویه هغه ده. که هر وخت د دې په لټه کې یاستی، چې څه وایی او څه کوی څو تاسې په کې بند را نه شی، په ډېر احتمال سره ستاسې اړیکه سمه نه ده.

د خپل ژوند ملگری چې تاسې یې په اړه د کمترۍ فکر کوی او دا هڅه کوی چې پر هغه د خپل رعب وساتی، همدا ستاسې او هغه/هغې ترمنځ د تنفر لامل کېږي او بالاخره تاسې هر یو په ذهني افسردگۍ اخته کېږی.

د دې لپاره چې تاسې پر دغه ناروغۍ اخته یاست که نه، له ځان څخه دغه لاندې پوښتنې وپوښتئ. که مو ډېرو پوښتنو ته ځواب (هو) و، په ډېر احتمال سره تاسې پر دغه ناروغۍ اخته یاست.

ایا ستاسې اړیکه پر ازار او اذیت ولاړه ده؟

ایا ډېر وخت تاسې له گډ ملگري څخه وېرېږی؟

ایا له دې وېرې چې د ژوند ملگری به مو په غوسه شي، اصلاً د ځینو شیانو په اړه خبرې نه کوی؟

ایا داسې احساس کوی، چې تاسې د خپل ملگري لپاره هېڅ ښه کار نه شی کولای؟

ای دا باور لری، چې تاسې باید د ازار او اذیت لار غوره کړی؟

ایا داسې فکر کوی چې مقابل لوری تاسي ته ستونزه جوړوي؟

ایا د سترېا او ناراحتۍ احساس کوی؟

د دې لپاره چې له دې ناروغۍ بچ پاتې شی، ښه ده چې لومړی یې له ځانه پیل کړی. لومړی په ورین تندي دا ومنئ، چې تاسې په دغه ډنډ کې گیر شوی یاستی. وروسته مو له مقابل لوري سره وگورئ او د خپل دغه عمل په اړه ترې ښښنه وغواړی. که نږدې کوم ارواپوه وي، ښه ده چې له هغه سره وگورئ، خپله ستونزه ورسره شریکه کړئ او د حل غوښتنه یې ترې وکړئ. که نه وي، ښه ده چې تر هرچا پرته خپله له هغه کس سره کښنئ او په دې تړاو ورسره خبرې وکړئ.

د خپل تېر کردار په اړه زیات فکر مه کوئ، بلکې ټوله توجه مو دې راته ټوله کړئ، چې سنگه کولای شی مقابل لوری ببېرته لاس ته راوړی. یوازې همدا جرئت کول مو له دې بلا خلاصولی شي.

# د ملا برادر په مشرۍ د طالبانو د مذاکراتي ټیم غړي مسکو ته تللي دي

د طالبانو د رهبرۍ سیاسي مرستیال او د قطر دفتر مشر ملا عبدالغني برادر د طالبانو د مذاکراتي ټیم په ملتیا د روسیې په رسمي بلنه مسکو ته تللی او تمه ده چې هلته نن د روسیې او افغانستان د سل کلنو ډیپلوماټیکو اړیکو په یاد غونډه کې گډون وکړي.

د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، چې دوی به له ځینو افغان سیاسیونو سره هم په یوه بین‌الافغاني غونډه کې گډون وکړي.

هغه ویلي، ملا عبدالغني برادر، شېرمحمدعباس ستانکزی، شهاب الدین دلاور، سیدرسول حلیم، ملا محمد فاضل، مولوي امیرخان متقي، ملا عبدالطیف منصور، مولوي عبدالسلام حنفي، قاري دین محمد حنیف، سهیل شاهین، ملاخیرالله خیرخوا، مولوي محمد نبي عمري، ملا نورالله نوري، مولوي محمدحسن هغه کسان دي چې په یاده غونډه کې د گډون په موخه مسکو ته تللي دي.



ویل کېږي چې د افغان سیاسیونو له اړخه به په دغه غونډه کې پخوانی ولسمشر حامد کرزی او د سولې عالي شورا مشر کریم خلیلي هم گډون وکړي او ټاکل شوي چې طالبان به د ښاغلي کرزي په مشرۍ له افغان پلاوي سره هم د افغان سولې او راتلونکي په اړه خبرې وکړي.

مسکو ته د طالب پلاوي سفر داسې مهال دی چې ټاکل شوې په راتلونکو څو ورځو یا اونیو کې په دوحه کې د امریکا او طالب استازو ترمنځ د افغان سولې په تړاو اووم پړاو خبرې هم وشي.

# اجرایه رییس: په ارگ کې د اخلاقي فساد د ادعاوو په تړاو دې جدي څېړنې وشي

د ملي یووالي حکومت اجرایه رییس په ارگ کې د اخلاقي فساد په اړه د راپورته شوو ادعاوو په اړه ویلي، چې په دې تړاو دې جدي څېړنې وشي.

عبدالله عبدالله تېره ورځ د وزیرانو شورا په غونډه کې په دې اړه د اندېښنې په ښودلو سره وویل، چې د اخلاقي فساد په اړه ادعاوې پر ټولنه منفي اغېز کوي او په خبره یې چې له دې قضیې سره باید سیاسي چلند ونه شي.

هغه په دې اړه د راپورونو تر خپرېدو وروسته ویلي: «دا ډول اوازې او خبرې کېدای شي وجود ولري، خو په دې اړه قضاوت نشم کولای».

دا په داسې حال کې ده چې په امنیتي چارو کې د ولسمشر غني پخواني سلاکار حبیب الله احمدزي په خپلو تازه ښرگندونو کې ادعا کړې، چې د غني سلاکار فضلي د پارلماني ټاکنو ځینې ښځینه نوماندانې چې له ۶۰۰ څخه کمې رایې یې وړې وې، د نامشروع اړیکو له مخې یې ولسي جرگې ته کامیابې کړې دي.

عبدالله ټینگار کړی چې د خلکو د باور خپلولو او د افغانستان د اسلامي جمهوري نظام اعتبار ته د زیان رسېدو د مخنیوي په موخه باید په دې اړه خپلواکې او بې پرې څېړنې وشي.

عبدالله زیاته کړې: «که له دې مسئلې سره سیاسي چلند وشي، دا به د افغان مېرمنو سالم حرکت ته یوه لویه ضربه وي، په داسې حال کې چې افغان مېرمنې په ټولنه او د خلکو په منځ کې خاص ځای لري او په پوره ایمانداري او ژمنې سره د خلکو خدمت کوي. دغه مسئله ریښتیا هم زیان رسوي چې بیا به د جبران وړ نه وي».

خو د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند هارون چخانسوري بیا ورمه ورځ په ارگ کې د اخلاقي فساد په اړه د ولسمشر غني د پخواني سلاکار جنرال حبیب الله احمدزي ادعاوې بې اساسه او دروغ بللي دي.

چخانسوري له لویې څارنوالۍ هم وغوښتل چې د یادې ادعا د ثابتولو لپاره له حبیب الله احمدزي څخه پلټنې وکړي او له احمدزي څخه یې هم وغوښتل چې په دې اړه خپل اسناد او شواهد لویې څارنوالۍ ته وسپاري.

جنرال حبیب الله احمدزی مخکې په امنیتي چارو کې د ولسمشر غني سلاکار و، چې د ولسي جرگې تېرو ټاکنو ته یې تر نوماندېدو مخکې له یادې دندې څخه استعفا وکړه، خو هغه د ولسي جرگې په ټاکنو کې بریالی نه شو.

تر دې مهاله معلومه نه ده چې ایا لویې څارنوالۍ له نوموړي څخه د ده د ادعا په اړه د اسنادو او شواهدو غوښتنه کړې که نه.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۹,۶۰ |
| € | ۸۹,۲۰ |
| Rp. | ۵۳۸ |
| ₹ | ۱۱۳۰ |
| ¥ | ۱۱,۴۰ |
| £ | ۱۰۰,۷۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنی شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

سه شنبه د ۱۳۹۸ د غبرګولي اوومه | د ۲۰۱۹ د مي ۲۸مه | دریم کال | ۳۸۱یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۹ | ۳۳ | ۳۸ | ۳۶ | ۳۹ | ۳٤ |
| ۱۳ | ۱۸ | ۱۹ | ۱۹ | ۲۲ | ۲۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۱ | لمر ختل ۰٤:٤٤ | ماسپښین ۱۱:۵۱ | مازیګر ۰۳:۳۷ | ماښام ۰۷:۰۱ | ماخوستن ۰۸:٤۰

سه شنبه ۱۳۹۸/۳/۷
د سهار اذان ۰۳:۰۱ د ماښام اذان ۰۷:۰۱
رمضان کریم


## نړۍ



# سعودي عربستان د مکې په بېړنیو سرمشریزو کې قطر ته هم د ګډون بلنه ورکړې ده

۳

## منظور پښتین: ملګري ملتونه دې د پښتنو د وژنو خلاف غږ پورته کړي



د پښتون ژغورنې غورځنګ مشر منظور پښتین ویلي، چې د پاکستان پوځ د شمالي وزیرستان د «دته خېلو» په خړ کمر کې په عامو خلکو ډزې کړې او مرګ ژوبله یې ور اړولې ده.

پښتین دغه راز د پاکستان پوځ تورن کړی چې په سوله ییزو مظاهره‌چیانو یې برید کړی دی.

هغه ویلي: «علي وزیر، د پاکستان د پارلمان غړی او ډاکټر ګل عالم، د وزیر د لویې جرګې مشر را روان وو. په وروستي چک پوسټ کې یې تري سمه تلاشي هم واخیستله. کله چې دوی اعتراضیه ناستې ته نږدې کېدل، له شا یې ډزې پرې وکړې چې پکې څه کسان شهیدان شول او په لسګونه زخمیان دي. د محسن داوړ په غاړه کې د ګلونو هار و، نو دوی چې دلته حملې ته راتلل، نو ګلونه یې راوړل؟ ګولۍ خو ستا په لاس کې وې. ټوپک خو ستا (د پاکستان پوځ) په لاس کې وي».

عیني شاهدانو او د سیمې اوسېدونکو د ازادې اروپا مشال راډیو ته ویلي، چې امنیتي سرتېرو د وزیرستان لویې جرګې د غړو او مشرانو، په پارلمان کې د شمالي او جنوبي وزیرستان استازو محسن داوړ او علي وزیر، د پښتون ژغورنې غورځنګ مخکښانو او ځایي مشرانو یوه قافله پر خړ کمر پوستې ودروله او یوې اعتراضیه ناستې ته یې له ورتګه منعه کړل.

بلخوا د پاکستان د پوځ مطبوعاتي دفتر ویلي چې محسن داوړ او علي وزیر د مشکوکو ترهګرو د یوه ملګري خوشې کولو په هدف پر پوځ فشار اچول غوښتل.

د پاکستان د پوځ مطبوعاتي دفتر ویلي چې علي وزیر او اته نور کسان دوی بندیان کړي دي.

د پښتون ژغورنې غورځنګ مشر بېګاه د ملګرو ملتونو سازمان او د بشري حقونو پر مدافع سازمانونو هم نیوکه کړې، چې د عامو خلکو د وژنې پر خلاف غږ پورته کړي.

## ټرمپ: د ایران د اوسني رژیم بدلون نه غواړو، بلکې دغه هېواد باید له اټومي وسلو راوګرځول شي

د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ جاپان ته د سفر پر مهال ویلي، واشنګټن د ایران د اوسني رژیم د بدلون په لټه کې نه دی، بلکې غواړي چې دغه هېواد له اټومي وسلو راوګرځوي.

د ټرمپ دغه څرګندونې داسې مهال دي چې له دې وړاندې یې د ملي امنیت سلاکار جان بولټن ویلي وو، چې د ایران اوسنی رژیم باید بدل شي.

ټرمپ د جاپان له لومړي وزیر سره په ګډه خبري ناسته کې ویلي: « ایران دا فرصت لري چې د اوسنۍ رهبرۍ په مشرۍ په یوه عالي هېواد بدل شي، موږ د دغه هېواد د رژیم د بدلون



غوښتونکي نه یو، بلکې غواړو چې دغه هېواد له اټومي وسلو را وګرځوو».

نوموړي زیاته کړې چې ایران اوسمهال دا لېوالتیا لري، چې له واشنګټن سره یوې هوکړې ته ورسېږي او که ایران وغواړي، دوی تیار دي چې اوسنۍ لانجې د خبرو له لارې حل کړي.

ټرمپ دغه راز زیاته کړې: « کله چې زه واک ته ورسېدم، ایران یو وحشت و. هغوی نږدې په ټول منځني ختیځ کې جګړه پیل کړې وه. دغه هېواد په سوریه او یمن کې د هر لوی برید تر شا لاس درلود. خو هغوی اوسمهال بېرته شاتګ ته اړ شوي، ځکه چې دوی په اقتصادي لحاظ له ډېرو ستونزو سره مخ دي».

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې کویټي چارواکو د ایران او امریکا ترمنځ د خبرو د پیل راپور ورکړی و، خو ایران بیا دغه ادعا رد کړې ده.

## نامزدان ریاست جمهوری:

## انفکاک و تقرری های جدید به منظور تقلب و مهندسی انتخابات صورت می گیرد




نامزدان انتخابات ریاست جمهوری، با انتقاد از عزل و نصب مشاورین و مقام های دولتی از سوی محمد اشرف غنی، مدعی اند که انفکاک و تقرری های جدید به منظور تقلب و مهندسی انتخابات پیش رو صورت می گیرد.

این در حالی‌است که رئیس جمهور غنی، به تازه‌گی شهزاد گل آریوبی وزیر مخابرات و تکنالوژی معلوماتی، محمدگُل خُلمی سرپرست وزارت انرژی و آب و نجیب الله خواجه عمری وزیر تحصیلات عالی را از سمت های شان برکنار و طی فرمانی، محمد فهیم هاشمی رئیس تلویزیون یک را به عنوان سرپرست وزارت مخابرات، طاهر شاران را به حیث سرپرست وزارت انرژی و آب، و عبدالتواب بالاکرزی را به حیث سرپرست وزارت تحصیلات عالی توظیف کرد.

شهاب حکیمی نامزد انتخابات ریاست جمهوری گفته است: «ماموریت محمد اشرف غنی، مطابق به قانون پایان یافته است؛ اما هنوز هم به شکل «بی شرمانه» از کرسی ریاست جمهوری سخن می زند».


موصوف، با اشاره به انفکاک و استخدام مشاورین و وزرای جدید از سوی رئیس جمهور محمد اشرف غنی، گفت که وی با عزل و نصب مقام های دولتی، زمینه را برای تقلب و مهندسی انتخابات پیش رو مساعد می کند.

او تصریح کرده است: «با عزل و نصب مقامات دولتی در کنار مساعد کردن زمینه رشوه و فساد، تلاش دارد که در انتخابات پیش رو برایش کمپاین و تقلب فراگیر بکنند و در آخر روز، خود را برنده اعلان کند».

حکیمی گفت که اشرف غنی، حکومت وحدت ملی را به گونه غیرقانونی بنا گذاشت و تا حال ۹۳ بار در مواد قانون اساسی تخطی کرده است و به زودترین فرصت خلع قدرت خواهد شد.

## ژوند

## تاسو خپله یو ځانګړی کس یاست





که فکر وکړو هر څوک یو ځانګړی انسان دی. دوه داسې کسان به پیدا نه شي، چې په خپلو کې سره ورته وي او یا هم یو ډول ځانګړنې ولري. ان د غره دوه څوکې نه شي سره ورته کېدلی، هرو مرو به یوه ظریفي لري، چې یوه له بلې بېله کړي.

ځانګړیتوب په دې مانا نه دی، چې تاسو دې یو پوره کس اوسئ، خو د تکامل یوه ځانګړنه کېدای شي. د دې لپاره چې له نورو مو توپیر وشي اړ نه یاست، چې عجیب او غریب کارونه تر سره کړی، کولی شی د ډېرو وړو کارونو په تر سره کولو سره له نورو متمایز اوسی.

له ارزښتمنو کسانو سره ښه چلند وکړئ، څه چې یاستی، هغسې اوسئ، په زړه پورې چلند وکړئ، دا ومنئ چې هرڅوک ځانګړي دي، له خلکو سره مرسته وکړئ. ځینې وخت ګورئ چې یو ملګری مو په بد حالت کې دی، خنګ ته یې ورشئ او د خو ښو کلمو په ویلو ور سره د همدردۍ احساس وکړئ. له شک پرته چې ستاسو دغه کړنه به د هغه د خوښۍ لامل شي. هغه تاسو ته اړتیا لري، خبرو ته یې غوږ کېږدئ، که مو حللاره ذهن ته درغله، ور سره شریکه یې کړئ.

## داسې خواړه او مېوې هم شته چې درد اراموي



ډېر کله موږ د درد د ارامولو لپاره له ګولیو او درملو څخه استفاده کوو؛ خو ځینې میوې او غذاوې هم دا کار په ډېرې اسانۍ سره کوي.

۱ـ ګیلاس: ګیلاس یا چیریز د عضلاتو درد ارامويي. ګیلاس که همداسې وخوړل شي او که د ګیلاسو جوس وي، دواړه یې د درد په ارامولو کې مرسته کوي.

۲ـ هوږه: هوږه له کلونو راهیسې د درد د ارامولو لپاره استعمالیږي. هوږه که په یو وړه کاشوغه د زیتونو غوړیو کې ګرمه شي او د بدن هغه ځای چې درد کوي، ورباندې غوړ شي؛ درد اراموي.

۳ـ وربشې: وربشې هم د درد د ارامولو لپاره ډېرې ګټورې دي، په خاص ډول له مېرمنو سره د هغوی د حیض په دوره کې د درد په ارامولو کې مرسته کوي.

۴ـ انګور: انګور د ملا دردونه ارامويي او د وینې جریان تېزوي.

۵ـ لونګ: لونګ د غاښونو د درد د ارامولو لپاره استعمالیږي.

ډاکټران په دې اند دي چې که د ډېر وخت لپاره درد ارامونکي درمل وخوړل شي، په بدن کې ډېرې ستونزې رامنځ ته کوي. د دې تر څنګ، ډېری درد ارامونکي درمل بډوډو ته هم زیان رسوي او په راتلونکي کې پر بدن د نورو درملو اغېز هم کموي.